عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپرېدل: عمومي
۲۱ فبروری ۲۰۲۵
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**نهه اوبایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**امنیت شورا**
**اتیایم کال**

# په افغانستان کې وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت باندي یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی. مقدمه

۱. دا راپور د عمومي اسمبلۍ د ۷۴/۹ ګڼه پرېکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) ګڼه پرېکړه لیک پر بنسټ سپارل شوی دی، چې په کې له سرمنشي غوښتل شوي څو په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د وضعیت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه، د ځایي کچې په ګډون، راپور ورکړي.

۲. دا راپور د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۶ نېټه خپور شوي مخکني راپور (A/79/675-S/2024/876) راهیسې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کړنو لکه سیاسي، بشردوستانه، او بشري حقونو هڅو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند بدلونونه

۳. د طالبانو مشر هبت الله آخندزاده د خپل مقام د ټینګولو په موخه نور ګامونه اخېستې دې چې په هغه کې تر خپل مشري لاندې په کندهار ولایت کې د کلیدی ناستې شامل وو او په مهمو پوستونو کې خپل وفادار کسان ټاکلې دي. بر حاله چارواکې د ښځو په وړاندې نوي بندیزونه پلي کړي دي او طبې زده کړو ته د ښځو لاسرسي باندې بندیز لګولی دی او همدارنګه دوی عامه تعامل ته دوام ورکړي تر څو د امر بلمعروف او نهی عن المنکر قانون لا پسې په کلک ډول سره پلي کړي. په دغه اړوند ډیرې اندېښنې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو موسسو ته د افغانستان د وګړو بیلابیلو قشرونو څخه او په ځانګړي ډول له ښځو لخوا اظهار شوي دي چې دغه قانون د دوی پر ژوند او معیشت باندې منفي اغیزه کړی ده. په عراق او شام کې اسلامي حکومت (د خراسان ولایت لپاره د داعش څانګه) د یو شمېر بریدونو مسؤلیت په غاړه اخېستې ده چې په هغه کې د برحاله چارواکو د مهاجرینو او بېرته راستنیدونکو چارو وزیر خلیل الرحمن حقانې هدفي وژنه شامل دی او په ورته حال کې څو مخالفو وسله والو ډلو هم د بریدونو ادعا کړي دي. خو ته د داعش ډلې د خراسان ولایت څانګه او نه هم نورې وسله والې ډلې د طالبانو واک او اراضی ته کوم ستر ګواښ پېښ کړی ندی. د جنوري د میاشتې تر اخره پورې په افغانستان کې د بشري حقونو اړتیاوي او د ۲۰۲۵ کال مرستو لپاره غبرګون کې، چې کابو د ۲۲،۹ ملیون محتاجو کسانو څخه ۱۶،۸ ملیون وګړو ته

مرسته رسولو هدف ټاکلي دی، د ۲،۴۲ ملیارډو امریکایي ډالرو اړتیا وړ غوښتنه کې، یوازې ۳،۵ سلنه ځواب ویل شوی دی، په داسې حال کې چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ستراتیژیک کاری چوکاټ د ۲۰۲۳ تر ۲۰۲۵ کلونو لپاره، چې د ۲۰۲۵ کال لپاره ۲،۵۳ ملیارډ امریکایي ډالرو غوښتنه شوي وو، تر ۱۱ سلنه څخه لږ ځواب تر لاسه کړی دی.

**الف. سیاسي بدلونونه**

۴. د راپورونو له مخې د طالبانو مشر په کابل کې میشت او همدارنګه د برحالې اداری نورو سترو مشرانو سره په کندهار ولایت کې کلیدي غونډې کړي دي. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې په ۵ نېټه، د راپورونو پر بنسټ، د طالبانو مشر د کندهار په ولایت کې یوه غونډه دایره کړې او په هغه کې د برحالو چارواکو د لوړ پوړو اراکینو برسېره د اوسني چارواکو د عدلیې وزیر عبدالحکیم حقاني، د اوسني چارواکو د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقاني، او د اوسني چارواکو د مالیې وزیر نصر آخند هم ګډون کړي وو. د راپورونو پر بنسټ یو کلیدي پریکړه چې په دغه غونډه کې شوی دی هغه د بیت المال تثبیت، ثبت او ساتنې ریاست تر نوم لاندی د برحاله چارواکو د نوي رامنځته شوی د اداری د مشر ټاکل دی. دغه دفتر د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر د میاشتې ۱۴ نېټه کې د یو فرمان په ترځ رامنځته شو او هغه صلاحیت لري چې د طالبانو د مشر تر امر لاندي پوځي تجهیزات، نقلیه وسایط، مهمات او د وسلو د ویش او ثبت فهرستونو باندې څارنه وکړي.

۵. د دسمبر د میاشتې په ۴ نېټه د اوسني چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته وویل چې د اوسني چارواکو د کابینې غونډه د طالبانو د مشر تر ریاست لاندي په کندهار ولایت کې جوړه شوه چې په هغه کې د رئیس الوزرا د سیاسي چارو مرستیال مولوي عبدالکبیر او د اوسني اداري نورو چارواکو ښکې حضور درلودل. کوم راپورونو چې وروسته تر لاسه شول ښیي چې د طالبانو مشر او د حاکمې اداري یو شمېر لوړ پوړي چارواکو سره یو لړ غونډې تر سره کړي چې په هغه کې د نړیوال سازمانونو د فعالتیونو په ګډون یو لړ مسایلو باندي بحث شوی دی.

۶. جلا راپورونه ښیي چې د دسمبر د میاشتې د ۱۷ تر ۲۱ نېټې پورې د طالبانو مشر د واکمنې اداري په اقتصادي چارو کې د رئیس الوزرا مرستیال عبدالغنی برادر، د واکمنې اداري د اقتصاد وزیر قاری دین محمد حنیف او یو شمېر نورو چارواکو سره لیدنې ترسره کړي تر څو د هغوي سره په افغانستان کې د نړیوالو او غیر دولتي موسسو پر حضور باندي بحث وکړي. د دغو بحثونو په اړوند رسمي اعلان نه دی ورکړ شوی. د دسمبر د میاشتې په ۱۷نېټه د واکمنې اداري اراکین په ټولنیزو رسنیو کې اعلان وکړ چې د طالبانو د مشر تر ریاست لاندي د واکمنې اداري اقتصادي کمیسیون ځانګړي ناسته د کندهار په ولایت کې ترسره شوي. په دغه ناسته کې د نورو تر منځ، په لاندي چارو باندي پریکړې ترسره شوي دي، د رهایشي، صنعتي او کرنیزو ډګرونو د استفادې لپاره د ځمکې اختصاص، د مهمو تل جوړښتونو پراختیا، د حاجي ګګ د کان د پروژې پرمختګ، د هلمند په ولایت کې د بریښنا ویش او هغو ټولنیزو کړنو ته رسیدګي کوم چې د شرعي قانون او افغاني ټولنې د نورمونو سره په ټکر کې دي.

۷. د دغه راپور د مودې پر مهال د واکمنې اداري لوړ پوړي چارواکې په کابل او د هغه څخه بهر عامو وګړو سره ناستې ترسره کړي دي. د ساري په ډول د واکمنې اداری د امر بلمعروف او نهي عن المنکر سرپرست وزیر محمد خالد حنیفي د فراه، هلمند، هرات، کندهار، نورستان او اروزګان ولایتونو کې ناستې ترسره کړي دي، په کوم کې چې دی د امر بلمعروف او نهي عن المنکر قانون د پشپړ پلې کولو غوښتنه وکړه. نور پیغامونه د شریعي قانون د پلی کولو اړتیا او د اسلامي سیستم پر تحفظ باندي متمرکز وو.

۸. مدني ټولنه، د ښځو ډلې او فعالین د یوناما او ټولنیزو رسینو سره خپلې اندېښنې په پر له پسې ډول سره شریک کړې او ویلې دې چې د امر بلمعروف و نهی عن المنکر قانون پیاوړي پلې کول، د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، په ځانګړي ډول د ښځو او زیانمندونکو ډلو ته خنډ رامنځته کړی دی. دوي راپور ورکړي چې د دغه قانون پلې کول په نامناسب ډول سره ښځې او نجونې، نارینه او ښځې، په ځانګړي ډول واړه سوداګري، دلاکان، خیاطان، د ودنو پخلنځایونه او رستورانونه او د شخصې

روزنیز مرکزونو په ګډون، او همدارنګه د عاید او د دندو د فرصتونو بشپړ له لاسه ورکولو له امله، په منفي ډول سره اغیزمن کړي دي. د یوناما د ټول افغانستان څخه داسې راپورونه تر لاسه کړي کوم چې د دندو او روزنې څخه د ښځو ګوښه کولو باندي کلکه نویکه کړي او ویلې دي چې دا عمل کورنیو د دوي د عاید څخه جلا کړی دی، فقر یې زیات کړي او کورنیو اړ کړي دي چې مهاجرت ته مخه کړي.

۹. د دسمبر په ۲۶ نېټه، د واکمنو چارواکو د اقتصاد وزارت د ۴۲۹۳ فرمان بیا صادر کړ، چې په ملي او نړیوالو نادولتي موسسو کې د افغان ښځو پر کار کولو بندیز تاییدوي. په یوه لیک کې چې د افغانستان د مرستې او پراختیا لپاره د اداري د همغږۍ اداري (اکبر موسسه) ته لیږل شوی و، د واکمن چارواکو یاد وزارت له نړیوالو نادولتي موسسو څخه وغوښتل چې د دې لارښوونې سره سم عمل وکړي او یا د فعالیتونو د تعلیق او د جوازونو د لغوه کولو په څېر نتایجو سره مخ شي. پداسې حال کې چې کوم نوي محدودیت ندی اعلان شوی، ځینو نادولتي موسسو خپلو افغان ښځینه کارمندانو ته یولیي چې له کوره کار وکړي، پداسې حال کې چې نورو دوی ته اجازه ورکړه چې له خپلو دفترونو څخه کار وکړي چیرې چې د جنسیت له مخې جلا والې اسانتیاوې شتون لري او چیرې چې د فرمان څخه استثناء او معافیت پلي کیږي.

۱۰. واکمنو چارواکو، طالبانو ته وفادار ټول نارینه کارکوونکې د مشرتابه په بستونو کې ټاکل او بدلولو ته دوام ورکړی دی. په ملي کچه کې دغه لاندې ګمارنې، د اوسنې واکمن نظام یو وزیر، دوه تنه مرستیال وزیران او د اوسنې واکمنو شپږ رییسان شامل وو. د سیاسي چارو لپاره د رئیس الوزرا مرستیال، مولوي عبدالکبیر، د خلیل الرحمن حقاني پر ځای د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزیر په توګه وټاکل شو. په سیمه ایز کچه کې په ګمارنې او تبدیولو کې دري اوسنې واکمن ولایتي والیان، شپږ اوسنې واکمن مرستیال والیان او لړترلږه ۱۸ ولایتي رئیسان او لږترلږه ۱۲ د اوسنې واکمن ولسوالان شامل وو.

۱۱. د راپور ورکولو په موده کې، لږ تر لږه ۲۹ د واکمنې اداري له خوا راجستر شویو مدرسو، او ۱۲ جهادي مدرسې د فراغت مراسم ترسره کړل. د راپورونو له مخې، ۱۲۶۶ نارینه او ۱۰۰ تنه ښځې د واکمنی اداری لخوا راجستر شویو مدرسو څخه او ۷۲۰ نارینه جهادي مدرسو څخه فارغ شوي دي. په هرصورت، د فارغانو شمیر په سیستماتیک ډول د واکمنی اداری لخوا نه دی خپور شوی. د مرکزي او ولایتي کچې لوړ پوړو چارواکو د مدرسو د فراغت مراسمو ته د عامه پیغام رسولو د پلیټ فارم په توګه دوام ورکړی، چې د دغه لاري د ملي یووالي او د شریعت د قانون د اطاعت غوښتنه یې کول او د ځوانانو لپاره د دیني زده کړې پر اهمیت ټینګار کول.

۱۲. د دسمبر په ۲۲ نېټه، واکمنو چارواکو اعلان وکړ چې د طالبانو مشر د تقاعد، د انسانانو د قاچاق د منع کولو او د خصوصي سکتور د پراختیا په ګډون په مختلفو چارو کې شپږ فرمانونه صادر کړی دی. له دې فرمانونو څخه یو، د دسمبر په ۱۰نېټه د تقاعد فرمان و چې په اتو مادو کې وروسته له هغه صادر شو چې د تقاعد د نه ورکړې په اړه د ملکي خدماتو متقاعدینو د هغه لپاره څو میاشتې لاریونونه ترسره کړل، او د مالیې وزارت او نورو فعالو دولتي ادارو سره په ګډه د تقاعد د ادعاوو د پروسس کولو لپاره یوه ځانګړې محکمه جوړه کړه. د طالبانو له واکمنۍ راهیسې شاوخوا ۱۷۰،۰۰۰ متقاعدینو ته معاش نه دی ورکړل شوی. د متقاعدینو اکثریت، چې ډیری یې له اقتصادي ستونزو سره مخ دي، د یوناما او رسنیو ته د هغه څه په اړه خپګان څرګند کړ چې دوی ورته د بیوروکراتیک پلوه پیچلې پروسې په توګه ګوري. د دسمبر د میاشتې په ۲۲نېټه، د عدلیې وزارت یو فرمان بیا خپور کړ چې په اصل کې د ۲۰۲۲ کال په نومبر میاشت کې خپور شو، چې د پخواني اسلامي جمهوریت د محکمو لخوا د ټولو طالبانو "مجاهدینو" په وړاندې د ټولو تورونو، تعقیبونو او محکومیتونو او جرمي اجرااتو لغوه کړل او امر یې وکړ چې اړوند ریکارډونه باید له منځه یوړل شي.

۱۳. د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې په ۱۲نېټه، د عدلیې وزیر عبدالحکیم شرعي د مدافع وکیلانو د عالي کمیسیون د یوې غونډې مشري وکړه. ګډونوالو د هغو ننګونو په اړه بحث وکړ چې مدافع وکیلان یې په خپل کار کې ورسره مخ دي، په شمول د، په توقیف ځایونو کې خپلو موکلانو ته لاسرسی او د ډیرو قاضیانو لخوا داسې چلند چې د مدافع وکیلانو وړتیا چې په واکمنو چارواکو محکمو کې په خپلواکه توګه د خپل موکلانو استازیتوب وکړي، خنډ رامنځته کوي. مدافع وکیلانو یوناما ته

راپور ورکړی چې اوسنۍ واکمن قاضیان غوره ګڼي چې په جرمي محاکمو کې اعترافات وکاروي، چې په دې توګه د دوی د خپلو مؤکلینو استازیتوب کولو وړتیا اغیزمنوي. د جنوري د میاشتې په ۱۲نېټه، د سترې محکمې د مارچ د میاشتې په ۲۰۲۲ نېټه کې خپله اعلامیه تکرار کړه چې د اوسنۍ واکمنو محکمو لخوا چمتو شوي خدمات وړیا دي او له خلکو څخه یې وغوښتل چې د هغو کسانو راپور ورکړي چې د داسې خدماتو لپاره پیسې راټولوي.

۱۴. د واکمنو چارواکو لخوا خپاره شوي عامه راپورونو کې معلومات ښکاره کوی چې، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر د میاشتې له ۳۱ نېټې څخه بیا تر ۲۰۲۵ کال د جنوري میاشتې تر ۲۱ نېټې پورې، ۱۵ سیمه ییزې شخړې، د کورنۍ او ټولنې مسلو او د ځمکې او اوبو حقونو په ګډون، په ۱۳ ولایتونو کې د سیمه ییزو مشرانو، دیني عالمانو او واکمنو چارواکو لخوا د منځګړیتوب له لارې حل شوې دې.

۱۵. د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر د میاشتې له ۳۱ نېټې څخه بیا تر ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۱۵نېټې پورې، د یوناما ساحوي دفترونو ۱۹۲ عامه پوهاوي فعالیتونه تسهیل کړي چې پکې د افغان مدني ټولنې، ځوانانو، قومي مشرانو، ژورنالستانو، متشبثینو او ښځینه فعالینو په ګډون، پکې یو شمېر فعالین هم شامل وو. یاد شوي فعالین د نورو مسلو تر څنګ د زده کړې اهمیت، په شمول د عصري علومو، د نارینه وو او ښځو لپاره، د ځوانانو او پخوانیو دولتي کارمندانو لپاره د کار فرصتونو، د مدني چاپېریال خوندی ساتلو او د لا ښه روغتیایي پاملرنې، اوبو او کرنې اسانتیاوو په لا پسې ښه کولو باندې ټینګار وکړل.

۱۶. د دسمبر د میاشتې په ۲۷ نېټه، د امنیت شورا د افغانستان په اړه یوه مطبوعاتي اعلامیه خپره کړه چې په کې د شورا غړو د ښځو او نجونو په وړاندې د طالبانو محدودیتونو د اغیزو په اړوند اندېښنه څرګنده کړې، او د دې بندیزونو د بېرته لیرې کولو غوښتنه یې وکړه. شورا د بشرپالنې او اقتصادي وضعیت په اړوند هم اندیښنې څرګندې کړې او له طالبانو یې وغوښتل چې د ترهګرۍ او د مخدره توکو سره د مبارزې لپاره اقدامات ترسره کړي. سربیره پردې، داد ملګرو ملتونو د رول پر اهمیت ټینګار وکړ او دا چې د ټولو اړوندو افغان شریکانو، سیمې اود نړیوالې ټولنې ترمنځ خبرې اترې، مشورې او تعامل، په ګډون د ملګرو ملتونو لخوا د افغانستان لپاره د ځانګړو استازو د غونډو له لارې، د سیاسي حل لپاره خورا مهم دي. شورا د سیاسي لارې نقشې د پراختیا پر اهمیت باندې ټینګار وکړ.

۱۷. د خپلواک ارزونې د سپارښتنو وروسته چې د امنیت شورا د ۲۶۷۹ (۲۰۲۳) پریکړه لیک (S/2023/856، ضمیمه) او د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو په دریمه غونډه د هغه په اړوند بحثونه وشول، کوم چې د ۲۰۲۴ کال د جون د میاشتې د ۳۰ نېټې څخه بیا د جولای د میاشتې تر لومړۍ نیټې پورې په دوحه کې ترسره شوه، یوناما د مخدره توکو سره د مبارزې په اړوند یوه کاري ډله او بله د خصوصي سکتور په اړوند رامنځته شول. سکرتریت او همدارنګه یوناما د نړیوالې ټولنې او د واکمنو چارواکو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ او جوړښتي ښکیلتیا د اسانتیا لپاره سیاسي لار نقشه هم طرحه کوي.

**ب. امنیت**

۱۸. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، ملګرو ملتونو د امنیت پورې اړوند ۲۰۸۱ پیښې ثبت کړې، چې د ۲۰۲۴/۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۱۶،۸ سلنه کمښت په ګوته کوي. سربیره پردې، د غلا ۱۰۸ پیښې رامنځته شوې، چې د ۲۰۲۴/۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۱۲۹ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱۹. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، وسله والو مخالفینو د طالبانو د ځمکنۍ کنټرول لپاره کومه د پام وړ ننګونه نه ده رامنځته کړې. ملګرو ملتونو د وسله والو مخالفینو ډلو لخوا د ۹۱ بریدونو ادعا تایید کړې دی. د ملي مقاومت جبهې او د افغانستان د آزادۍ جبهې ادعا کړې چې په ترتیب سره یې ۵۳ او ۲۱ بریدونه ترسره کړي دي. د خلکو د حاکمیت جبهې د یو برید ادعا کړې. د نورو ۱۶ بریدونو ترسره کوونکې لاهم تایید

شوي ندي. په تایید شویو بریدونو کې شامل دي هغه برید چې د دسمبر د میاشتې په ۲۸ نېټه په کابل کې د شیخ زاید روغتون ته څېرمه او د کورنیو چارو وزارت ته نږدې چې د ملي مقاومت جبهې لخوا یې ادعا شوې، او دوه جلا بریدونه، یو د دسمبر د میاشتې په ۱۹ نېټه او بل د دسمبر د میاشتې په ۳۱ نېټه، چې د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ د بګرام هوايي ډګر ته نږدې ترسره شو، چې د افغانستان د آزادۍ جبهې لخوا یې ادعا شوې ده.

۲۰. د راپورونو له مخې، د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه بیا د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ پورې، داعش-خراسان څانګه په افغانستان کې د مذهبي لږکیو، فعالو چارواکو او ادارو په نښه کولو سره شپږ بریدونه ترسره کړي دي. د شپږو بریدونو له جملې څخه، په ځانګړې توګه، داعش-خراسان څانګه د نومبر د میاشتې په ۲۱نېټه د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې د صوفي زیارت باندې د برید مسؤلیت په غاړه واخیست، چې لږ تر لږه ۱۱ تنه عبادت کوونکي پکې ووژل شول. د دسمبر د میاشتې په ۱۱نېټه، داعش-خراسان څانګه په کابل کې د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت کې دننه په یوه جومات کې د ځانمرګي برید مسؤلیت په غاړه واخیست چې برحاله وزیر او درې نور کسان یې ووژل او څلور نور کسان یې ټپیان کړل. د جنوري د میاشتې په ۷ نېټه، داعش-خراسان څانګه د بغلان ولایت په بغلان جدید ولسوالۍ کې د یو برید مسؤلیت په غاړه واخیست، چې د جامع جومات یو لوړ پوړی عالم یې ووژه او یو کس یې ټپي کړ. د جنوري د میاشتې په ۲۱ نېټه، داعش-خراسان څانګه د تخار ولایت په خواجه بهاءالدین ولسوالۍ کې د یو چینايي وګړي او د فعالو امنیتي ځواکونو د یو غړي د وژنې مسؤلیت هم په غاړه واخیست.

۲۱. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له لومړۍ نیټې څخه بیا د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، د شپږو وسله والو پېښو راپور ورکړل شوی چې د اوسنې واکمن نظام امنیتي ځواکونه او پاکستاني امنیتي ځواکونه پکې ښکېل وو. د اوسنې واکمن چارواکو او پاکستاني امنیتي ځواکونو دواړو په ختیځ، سهیل ختیځ او سهیلي سیمو کې د پولې په اوږدو کې د خپلو سرتیرو شتون په ستره کچه زیات کړي دي. د دسمبر د میاشتې په ۲۴ نېټه، پاکستان د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان په شکمنو پټنځایونو باندي هوايي بریدونه ترسره کړی دی. د دسمبر د میاشتې په ۲۷ نېټه، د خوست ولایت په علي شیر ولسوالۍ کې د واکمنې ادارې ځواکونو او پاکستاني ځواکونو ترمنځ وسله والې نښتې وشوې. د دسمبر د میاشتې په ۲۷ او ۲۸نېټه، د خوست ولایت په علي شیر او تیرزي ولسوالیو او د پکتیا ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې د پولې هاخوا ډزې کړي دي. د دسمبر د میاشتې په ۲۹ نېټه، د نښتو او ګولیو د اوریدو له امله، د پکتیکا، خوست او پکتیا ولایتونو په سرحدي ولسوالیو کې د ملګرو ملتونو بشري عملیات د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۶ نېټې پورې ودرول شول. د جنوري د میاشتې په ۳ نېټه، د پاکستان له خوا د پولې هاخوا توغندیو د تیرزی ولسوالۍ په څو کلیو اغیزه وکړه او د جنوري د میاشتې د ۹ نېټې او ۱۱ نېټې ترمنځ، د کونړ ولایت په دانګام ولسوالۍ کې د توغندیو او وسله والو نښتو پیښې شوې دې. د جنوري د میاشتې په ۱۰ نېټه، د هاوان ډزو او په سرکاني ولسوالۍ کې درنو نښتو شاوخوا ۲۵۰ کورنۍ بې ځایه کړې.

۲۲. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې د ۱ نیټې بیا د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نیټې موده کې په کنړ ولایت کې د نامعلومو عاملینو لخوا د تحریک طالبان پاکستان د جګړه‌ییزو قوماندانانو د هدفي وژنو لږ تر لږه دوه پیښې ثبت شوې. د راپورونو له مخې د نومبر د میاشتې په ۳۰ نېټه په شولتان ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان یو قوماندان ووژل شو او دوه نور قوماندانان ټپیان شول، او د دسمبر د میاشتې په ۳ نېټه په شیګل ولسوالۍ کې د تحریک طالبان پاکستان څلور جګړه‌ییزو قوماندانان ووژل شول.

۲۳. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له ۱ نیټې څخه بیا د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، ملګرو ملتونو د ۴۲ د خوندیتوب او امنیت پیښو راپورونه ثبت کړي چې په مستقیم ډول یې د هغه پرسونل اغیزمن کړي، چې په هغه کې د داخلې کارکوونکو په یو تن پورې تړلي کس تښتونه، د اور لګیدو یوه ناڅاپي پیښه، ۱۰ترافیکي پیښې، ۶ ګرفتاری، ۱ برید، د ځورونې، ډارولو او ګواښ ۱۲ قضیې، د خوځښت محدودیت ۶ قضیې، ۱ د غیر تاوتریخوالي عامه غونډې او د غلا او سرقت ۳ پیښې شامل وو. د فبروري د میاشې په ۲ نېټه، د کابل په ملګرو ملتونو کمپونډ کې د ملګرو ملتونو د ودانۍ د احاطې د دیوالونو

بهر د ځای پر ځای شوي امنيتي ځواکونو يوه غړي د ودانۍ د څارنې پر پوسته ډزې وکړې، چې د ملګرو ملتونو يو قراردادي نړېوال امنيتي ساتونکی يې ټپي کړ. تورن بريدګر وروسته د ودانۍ د احاطې د ديوالونو بهر مړ وموندل شو.

۲۴. يوناما د کوچنيو وسلو او سپکو وسلو لپاره د خطر کمولو کاري چوکاټ طرحه کړی دی ترڅو د ماموريت او اړوندو ښکيلو اړخونو سره په افغانستان او سيمه کې د ناقانونه وسلو د جريان څخه د ګواښونو د رسيدګۍ لپاره د عملي خطر کمولو اقداماتو تعقيبولو سره مرسته وکړي. سرېره پردې، د مخدره توکو او جرمونو په وړاندې مبارزه د ملګرو ملتونو دفتر، د خپلې د وسلو د قاچاق د څانګې او د هغې د نړېوال وسلو پروګرام له لارې، پدې خاطر چې د کوچنيو وسلو او سپکو وسلو د غيرقانوني قاچاق د څارنه ترسره شوي وی، د درې کلن کاري پلان په جوړولو کې د يوناما سره مرسته کړې دی. د کوچنيو وسلو او سپکو وسلو په اړوند د ټولو ښکيلو اړخونو څخه معلوماتو ته لاسرسی د ماموريت د هڅو لپاره يوه ننګونه پاتې ده.

### ج: سېمه ييز همکاري

۲۵. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د مياشتې له ۲۵ نېټې څخه بيا تر ۲۶ نېټې پورې، د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې استازې او د يوناما مشرې، روزا اوتونبايوا، د منځنۍ آسيا د هېوادونو د بهرنيو چارو د مرستيال وزيرانو په څوارلسمه کلنۍ غونډه کې ګډون وکړه. په دې غونډه کې، چې په تاشکند کې ترسره شوه، ګډونوالو د مرکزي آسيا او افغانستان کې د مشترک ننګونو د حل لپاره د ګډ اقدام اړتيا روښانه کړل. د جنوري د مياشتې له ۱۱ نېټې څخه بيا تر ۱۲ نېټې پورې، هغې د مسلمانو ټولنو کې د نجونو د زده کړې په اړه په نړېوال کنفرانس کې ګډون وکړه چې د اسلامي نړۍ جريان لخوا په اسلام آباد کې تنظيم شوی و، د پاکستان د لومړي وزير د دفتر تر سرپرستۍ لاندې ترسره شوه. ګډونوالو د اسلام آباد اعلاميه خپره کړه، چې په هغه کې ټينګار کړي وو چې د نجونو زده کړه يو بنسټيز حق دی او هغه اقدامات چې د دې حق څخه د ګټې اخيستنې د مخنيوي لپاره اخيستل شوي دي د مذهبي اصولو څخه ناوړه ګټه اخيستنه ده ترڅو د محروميت او ګوښه کولو پاليسۍ ته مشروعيت ورکړي.

۲۶. د واکمن نظام لوړ پوړو چارواکو د سيمې هيوادونو ته سفر وکړل ترڅو په څو اړخيزو فورمونو کې برخه واخلي چې په سوداګرۍ، مالي او ارتباطي برخو کې همکاري پياوړې کوي. د نومبر د مياشتې په ۹ نېټه، د اورګادي پټلۍ لپاره د عامه کارونو د واکمن نظام د ټول ګټو او اورګادې مرستيال وزير، محمد اسحاق صاحبزاده په تاشکند کې د خپلواکو هيوادونو د دولت مشترک د اورګادي ټرانسپورټ شورا په ۸۱ غونډه کې ګډون وکړ، چيرې چې هغه د قزاقستان، تاجکستان او ازبکستان د اورګادې پټلۍ چارواکو سره هم خبرې اترې ترسره کړی. هغه همدارنګه د نومبر د مياشتې په ۲۷ نېټه په ترکيه کې د اورګادی پټلۍ د نړيوالې اتحاديې د څلور دېرشم سيمه ييز کنفرانس کې هم ګډون وکړ. د نومبر د مياشتې په ۹ نېټه، د واکمن نظام د مرکزي بانک رئيس نور احمد آغا په بحرين کې د اسلامي مالي ادارو د محاسبې او تفتيش سازمان او د اسلامي پراختيايي بانک د نولسمې کلنۍ غونډې کې ګډون وکړ. د نومبر د مياشتې په ۱۹ نېټه، د واکمن نظام د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزير نجيب الله حقاني په چين کې د ۲۰۲۴ کال د انټرنيټ په نړيوال کنفرانس کې ګډون وکړ. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د مياشتې له ۲۷ نېټې څخه تر ۳۰ نېټې پورې، د واکمن نظام د سوداګرۍ او صنعت وزير نورالدين عزيزي په استانبول، ترکيه کې د حلال ايکسپو سوداګرۍ نندارتون کې ګډون وکړ. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د مياشتې په ۳ نېټه، د واکمن نظام د عامې روغتيا وزير مولوي نور جلال جلالي په چين کې د دوديزو درملو په نړيوال کنفرانس کې ګډون وکړ.

۲۷ . د ۲۰۲۴ کال د نومبر د مياشتې له ۱۱ نېټې څخه بيا تر ۲۴ نېټې پورې، د واکمن نظام د ملي چاپېريال ساتنې ادارې رئيس مطيع الحق خالص، د کوربه هيواد د ميلمه په توګه په باکو کې د ملګرو ملتونو د اقليم بدلون په چوکاټ کې د ګوندونو د کنفرانس په ۲۹ غونډه کې ګډون وکړ. د افغان نادولتي موسسو متخصصينو او د افغانستان دننه او بهر د اقليم فعالينو، د ښځو په ګډون، په غونډه کې د اړخيزو غونډو کې برخه واخيسته.

۲۸.	د واکمن نظام لوړ پوړو چارواکو د اقتصادي همکارۍ د ودې لپاره د سیمې هیوادونو ته دوه اړخیزه سفرونه وکړل. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۲ نېټه، د واکمن نظام د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ مرستیال وزیر، صدراعظم عثماني، د ایران اسلامي جمهوریت ته د کرنې همکارۍ په اړه د بحث لپاره د یوي پلاوی مشري وکړه. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۴ نېټه، د ملي برېښنا شرکت (دا افغانستان برېښنا شرکت) رئیس عبدالباري عمر، د بهرنیو چارو او مالیې وزارتونو د چارواکو سره یوځای، ترکمنستان ته سفر وکړ او د انرژۍ دولتي شرکت ترکمن انرژی رئیس او د ترکمنستان افغانستان-پاکستان د برېښنا د لیږد پروژې مشر سره یې د انرژۍ پروژو په اړه د خبرو اترو لپاره لیدنې ترسره کړل. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۵ نېټه، د ملي برېښنا شرکت اجرائیوي رئیس او د تاجکستان د برېښنا دولتي شرکت، د برقِ تاجیک رئیس، په ترکیه کې د ۲۰۲۵ کال لپاره د برېښنا د پیرودلو په موخه یو تړون لاسلیک کړل. د ۲۰۲۵ کال د جنوري دمیاشتې په ۹ نېټه، د واکمن نظام د بهرنیو چارو وزیر، امیر خان متقي، په ابوظبي کې د متحده عربي اماراتو د اقتصاد وزیر، عبدالله بن توق المري سره یوه غونډه وکړه، چې په کې د سوداګرۍ، اقتصادي او کرنې همکارۍ او ټرانزیټ مسلو په اړه خبرې وشوې. د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې په ۲۱ نېټه، د واکمن نظام د کورنیو چارو وزیر او د استخباراتو د عمومي ریاست رئیس، عبدالحق وثیق، د متحده عربي اماراتو له ولسمشر، شیخ محمد بن زاید آل نهیان سره په ابوظبي کې وکتل.

۲۹.	سیمه ییز پلاوي له افغانستان څخه لیدنې ترسره کړې ترڅو له واکمنو چارواکو سره تعامل ولري. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې په ۱۹ نېټه، د بنګله دیش او هندوستان اسلامي عالمانو د واکمن نظام د اقتصادي چارو لپاره د لومړي وزیر مرستیال سره وکتل. د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې له ۲۳ نېټې څخه بیا تر ۲۵ نېټې پورې، د روسیې فدراسیون د امنیت شورا منشي، سرګې شویګو، او د چین لخوا د افغانستان لپاره ځانګړي استازي، یو شیاویونګ، په جلا توګه له افغانستان څخه لیدنې ترسره کړل. د جنوري د میاشتې په ۲۶ نېټه، د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر، سید عباس عراقچي، په کابل کې د واکمن نظام د بهرنیو چارو سرپرست وزیر سره وکتل او د دوه اړخیزو اړیکو د لا پیاوړتیا او د دوه اړخیزو اندېښنو نورو مسلو په اړه یې بحث وکړ.

۳۰.	د ۲۰۲۴ کال د نومبر د میاشتې په ۲۰ نېټه، د افغانستان لپاره د ازبکستان نوي ټاکل شوي سفیر د خپل باورلیک یوه کاپي د واکمن نظام د بهرنیو چارو سرپرست ته وړاندې کړ. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر میاشتې په ۲۲ نېټه، سعودي عربستان په کابل کې د خپل سفارت د بیا پرانستلو اعلان وکړ.

۳۱.	یوناما د سیمه ییزې همکارۍ هڅو سره ښکیلتیا او آسانتیا ته دوام ورکړی. د ماموریت په تعامل کې د کابل میشته ډیپلوماتیک ماموریتونو سره د منظمو او لنډ مهاله غونډو تنظیم کول او د لیدونکو ډیپلوماتانو سره نورې دوه اړخیزې تعامل شامل دي.

### دریم: بشري حقونه

۳۲.	د راپور په دوره کې داسې بریدونو راپور ورکړ شوی او ثبت شوي دي کوم چې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده. لږ تر لږه ۸۱ تنه ملکي کسان (۵۷ تنه نارینه، ۸ تنه ښځې، ۱۸ تنه نجونې او ۱۸ تنه هلکان) وژل شوی او ۱۱۱ تنه نور (۵۷ تنه نارینه، ۹ تنه ښځې، ۱۵ تنه نجونې او ۳۰ تنه هلکان) ژوبل شوي دي. د نومبر د میاشتې په ۲۱ نېټه وسله وال کسان د بغلان ولایت په یو جمات کې ۱۱ تنه د طریقت کسان ووژل. د داعش د خراسان ولایت څانګه د برید مسؤلیت منلي دی. نورو ډلو هم د داسې بریدونو مسؤلیت منلي دی کوم چې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولی دی.

۳۳.	د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر د میاشتې د ۱ نیټې څخه بیا د دسمبر د میاشتې تر ۳۱ نیټې موده کې، د افغانستان د څارنې او راپور ورکولو کاري ځواک د نږدې ۱۳۰ ماشومانو په وړاندې شاوخوا ۳۶۰ جدي سرغړونې ثبت کړې، چې لږ تر لږه ۳۰ تنه نجونې هم پکې شاملې دي. تر ټولو عام سرغړونې د بشري مرستو ته د لاسرسي څخه مخنیوي، وژنه او معیوب کول وو، چې چاودیدونکې توکي د ماشومانو د تلفاتو د مخکښ لامل په توګه پاتې شوی دی.

۳۴.	د راپور په موده کې ناچاوده توکي ملکي وګړو ته زیان رسول دی، چې ډیری یې ماشومان دي د راپور په موده کې، ټول ۹ ملکي وګړي ووژل شول (۴ تنه نارینه، ۲ تنه نجونې او ۳ تنه هلکان) او ۳۶ تنه نور (۱۰ تنه نارینه، ۱ ښځه، ۸ تنې نجونې او ۱۷ تنه هلکان) ټپیان شوي دي.

۳۵.	د پاکستاني او واکمن چارواکو د امنیتي ځواکونو ترمنځ د پولې هاخوا وسله وال تاوتریخوالی هم د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوی دی. د دسمبر د میاشتې په ۲۴ نېټه، په پکتیکا ولایت کې، د پاکستاني امنیتي ځواکونو لخوا د هوایي بریدونو له امله لږ تر لږه ۴۵ ملکي وګړي ووژل شول (۳۰ تنه ماشومان، ۸ تنې ښځې او ۷ تنه نارینه) او ۸ تنه نور (۶ تنه ماشومان او ۲ تنې ښځې) ټپیان شوي دي. د دسمبر میاشتې په ۲۸ نېټه، په پکتیا ولایت کې، د واکمن چارواکو سرحدي ځواکونو او د پاکستاني امنیتي ځواکونو ترمنځ د پولې هاخوا ډزو په پایله کې ۳ تنه نارینه ووژل شوي او شپږ تنه نارینه ټپیان شوي دي. په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته په لیکلي ډول خبر ورکړي چې "د اوسني واکمن افغان چارواکو لخوا د ټي ټي پي په وړاندې د اقدام کولو کې د پاتې راتلو له امله، چې د افغانستان په خاوره کې خوندي پټنځایونه لري، او د هغو ترهګریزو بریدونه کوم چې د پولې دې خوا، په افغان خاوره کې پلان او تنظیم شوي دي، د پاکستان اندیښنې په ښه توګه مستند شوي دي او په عامه توګه پېژندل شوي دي" او یادونه یې وکړه چې "د پولې هاخوا څخه د پاکستاني امنیتي تاسیساتو او پرسونل باندې پرته له کوم دلیله لومړي ډزې شوي دي".

۳۶.	د ۲۰۲۱ کال د عمومي بخښنې د اعلان سره سره، د تېر حکومت چارواکو او د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو په وړاندې د بشري حقونو سرغړونې لا هم دوام لري. یوناما لږ تر لږه ۱ وژنه، ۳۷ خپل سري نیول او توقیفول، او د پخوانیو حکومتي چارواکو او د افغانستان د ملي دفاع او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو د شکنجې او ناوړه چلند ۱۸ پیښې ثبت کړې دي.

۳۷.	د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د همجنسبازانو، نارینه همجنسبازانو، دوه جنسه، ترانز جنسیت، داخلی بیل جنسیت او او کو-ویر جنسیت اشخاصو د خپل سري نیولو، او په توقیف ځایونو کې د شکنجې او جنسي تاوتریخوالي کړنې مستندې کړې دي.

۳۸.	د نومبر د میاشتې په ۱۳ نېټه، د پکتیا ولایت په ګردیز ښار کې، یو سړی په عامه توګه وروسته له هغه اعدام شو چې د هغه وژنې په تور محکوم شو چې هغه یې، د راپور له مخې، کله چې هغه کوچنی و ترسره کړی و. په دې قضیه کې د مرګ د سزا د پلي کولو حکم د طالبانو د مشر له وروستی تصویب څخه مخکې د نظامي محکمې د درې واړو قضایي کچو (لومړنی، استیناف او ستره محکمې) لخوا صادر او تصویب شو.

۳۹.	د امر بلمعروف او نهي عن المنکر وزارت د دغه قانون، د رسنیو د سکتور په ګډون، پلي کولو ته دوام ورکړی دی. د نومبر په میاشت د په خوست ولایت کې دوه راډیو سټیشنونه د خپلو پروګرامونو په جریان کې د شالید موسیقۍ غږولو له امله تعلیق شول. دوی ته اجازه ورکړل شوه چې د تضمین له ورکولو وروسته خپلې خپرونې بیا له سره پیل کړي چې دوی به د موسیقۍ غږولو څخه ډډه کوي. د دسمبر د میاشتې په ۴ نېټه، په کابل ولایت کې، د امر بلمعرف او نهي عن المنکر ریاست د تلویزیون د سټیشن کارکوونکې ونیول چې د یو ټلویزونې سریال دوبله کول (ډبینګ) باندی مشغول وو چې د اسلامي اصولو او افغان کلتور څخه سرغړونه ګڼل شوې وه. دوی د دسمبر د میاشتې په نیمایي کې، د محاکمې د پروسیجرونو د پاتې کیدو له امله، خوشې شول. په ځینو مواردو کې د محرم اړتیا د قانون له محتوا په پرتله ډېره سخته پلي شوې وه، چې خدماتو ته د ښځو لاسرسی یې نور هم اغیزمن کړی دی. د مثال په توګه، په ځینو ولایتونو کې د روغتیا ریاست ښځینه ناروغانې اړ کړې وې چې د روغتیایي پاملرنې مرکزونو څخه د ګټې اخیستنې په موخه باید دوی سره محرم شتون ولري او همدارنګه ښځینه روغتیایي کارکوونکي کار ته د ورتګ په موخه هرومرو د محرم سره مل وي.

۴۰.	د نومبر په ۲۶مه، یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمیشنر دفتر په افغانستان کې د رسنیو د آزادۍ د وضعیت په اړه یو راپور خپور کړ. راپور وموندله چې د واکمنو چارواکو لخوا د اداري محتوا او د رسنیو په عملیاتو کې لاسوهنې د رسنیو آزادي په پراخه کچه کمه کړې ده. د موسیقۍ او ډرامو د خپرولو بندیز - د انټرنیټ له لارې له بهر څخه پروګرامونو ته د اسانه لاسرسي سره یوځای - او د سپوږمکۍ - او همدارنګه د هیواد اقتصادي ستونزو، د رسنیو لیدونکو او عوایدو کې کمښت راوستی دی. خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د ګواښونو، ناوړه چلند، خپل سري نیولو او توقیف سره مخ شوي دي. په رسنیو کې پر ښځو باندې لګول شوي محدودیتونه یا دوی په دې سکتور کې د کار کولو څخه منع کړي دي یا یې په عمده توګه د دفتر دندو پورې محدود کړي دي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت د راپور موندنې رد کړې، او ویې ویل چې "هیڅ خبریال د خبریال په توګه نه دی نیول شوی".

۴۱.	د ښځو د زده کړې پر حق باندې نور محدودیتونه هم ولګول شول. د دسمبر د میاشتې په ۲ نېټه، د عامې روغتیا وزارت معین بخت الرحمن شرافت په کابل کې راټولو شویو طبي موسسو مشرانو ته خبر ورکړ چې د طالبانو مشر د دسمبر د میاشتې له ۳ نیټې د پیل څخه د قابله ګۍ، نرسنګ، غاښونو پاملرنې او تغذیې په څېر برخو کې د ښځو او نجونو د طبي زده کړو کورسونو څخه د منع کولو امر صادر کړی دی. د نومبر په میاشت کې، د پکتیا او ننګرهار ولایتونو د پوهنې ریاستونو ښوونځیو او نادولتي موسسو ته، کوم چې د چټکې زده کړې پروګرامونه پرمخ بیول، امر وکړ چې د نجونو ټولګي یې له ځنډه بند کړي. د جنوري د میاشتې په ۱۸ نېټه د خوست ولایت په یوه مدرسه کې د فراغت په مراسمو کې، د بهرنیو چارو وزارت معین شیر محمد عباس ستانکزي د طالبانو له مشرتابه څخه وغوښتل چې د نجونو د زده کړې په اړه خپله پالیسي بیا وارزوي او د هلکانو او نجونو دواړو لپاره تعلیم ته نړیوال لاسرسی ډاډمن کړي.

۴۲.	واکمنو چارواکو د تبعیضي پالیسیو پلي کولو ته دوام ورکړی چې د ښځو د کار کولو حق یې اغیزمن کړی دی. د واکمنو چارواکو لخوا د نادولتي موسسو لپاره د افغان ښځو د کار کولو د بندیز د تکرار سربېره، یوناما په ځینو ولایتونو کې د کار او ټولنیزو چارو د واکمنو ریاست لخوا د ملي او نړیوالو نادولتي موسسو سره د دندو لپاره د ښځو د کار جواز ردول مستند کړی. د جنوري د میاشتې د ۴ نېټې څخه تر ۶ نېټې پورې، په کندهار کې، یوازې نارینه وو ته اجازه ورکړل شوې وه چې په سوداګریز ننداړتون کې برخه واخلي پداسې حال کې چې ښځې د ننداړتون د برخه والو او پیرودونکو په توګه له پامه وغورځول شوې دې.

۴۳. یوناما د ښځو او نجونو په وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي پیښې ثبت کړې دي، چې پکې وژنې، ناموسي وژنې، د ماشومانو ودونه، جبري ودونه، جنسي تیري، کورنی تاوتریخوالی او د کورنی تاوتریخوالي له امله ځان وژنه، شامل دي. په ځینو مواردو کې، واکمن چارواکي خورا جدي قضیې، لکه د وژنې هڅه، منځګړیتوب ته راجع کړې دي پداسې حال کې چې قربانیان د رسمي قضایي فیصلې په لټه کې دي.

۴۴.	د ۲۰۲۵ کال د جنوري د میاشتې په وروستیو ورځو کې، واکمنو چارواکو د زندانونو اداره راپور ورکړ چې شاوخوا ۲۵۵۰۰ کسان په خپل توقیف کې ساتلي دي، چې په کې شاوخوا ۱۹۰۰ ښځې او ۴۵۰ ماشومان او ۱۴۰۰ تنکي ځوانان شامل دي. د طالبانو د مشر په امر، د سترې محکمې د ۲۰۲۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۱۴ نېټه یو متحد المال لبک خپور کړ چې په کې د استیناف محکمو ته لارښوونه وشوه چې په هر ولایت کې کمیټې جوړې کړي ترڅو د بخښنې یا د سزا کمولو وړ اشخاص تشخیص کړي. د جنوري په میاشت کې، د واکمنې ادارې د زندانونو دفتر راپور ورکړ چې، د کابل د څرخې پله د بندیخانې په ګډون، له ۶۷۰ تنو څخه ډیر بندیان د هیواد له زندانونو څخه خوشې شوي دي، ، او د ۱۱۴۵ تنه نورو بندیانو سزا کمه شوې ده.

۴۵. د جنوري د میاشتې په ۲۳ نېټه، د نړیوالې جنایي محکمې څارنوال، د دغه محکمې د محاکمې څخه مخکې دیوان څخه غوښتنه وکړه چې د طالبانو د مشر او د قاضي القضات د نیولو امر صادر کړي، او ویې ویل چې داسې معقول دلیلونه شتون لري چې باور وشي چې دوی د جنسیت پر بنسټ د بشریت پر وړاندې د جرم او ځورونې مسؤلیت لري.

## څلورم.  اقتصادي پرمختګ، د مرستندویو همغږي او د مرستې اغېزمنتیا

۴۶ .	نړیوال بانک  په خپل تازه راپور کې چې د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په میاشت کې خپور شوی، د افغانستان د پرمختګ په هکله  څرګنده کړې، چې د افغانستان اقتصادي وضعیت د دوو کلونو د پام وړ ټیټوالي وروسته ۲.۷ سلنه منځنۍ وده تجربه کړې چې په عمده توګه د شخصي مصرف د زیاتوالي له امله وه. که څه هم اقتصادي حالت د پالیسۍ د ناڅرګندیا، مالي انزوا، په دوامداره توګه د ښځو پر اقتصادي ګډون محدودیتونو، د سوداګرۍ نابرابرۍ او کمزوري دولتي پانګونې له امله لا هم نامعلوم او نازک دی څه چې د پرمختګ لپاره خنډ ګرځي. ډېرې کورنۍ د لمړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره هڅه کوي ځکه چې بې کاري او فقر په پراخه کچه شتون لري. د ښځو، ماشومانو او بې ځایه شویو خلکو په ګډون زیانمونکې ډلې د ناسم ټولنیز خوندیتوب له امله لا هم د اقتصادي سخت بار زغمي.

۴۷.	نور لوی اقتصادي شاخصونه د راپور ورکولو په موده کې معتدله وده ښيي. د ۲۰۲۴ کال په نومبر کې یې د تېرې میاشتې په پرتله ۰.۴ سلنه کمې شوې وې چې د اګست میاشت کې لیدل شوی د بیو د لوړېدو بهیر بې بېرته راګرځولی. د کورونو په مصارفو کې چټک زیاتوالی راغلی په داسې حال کې چې د خوراکي توکو بیې ثابتې پاتې دي، سره له دې چې د سختې هوا له امله د تیلو او سبزیجاتو بیې لوړې شوې. په نومبر کې د تېر کال په پرتله د کمې تقاضاء، پیاوړې افغانۍ او د کرنیزې اضافي عرضې د ملاتړ له امله ټولې بیې ۳.۸ سلنه کمې شوې وې. په ۲۰۲۴ کال کې افغانۍ د ۲۰۲۳ کال په پرتله د امریکایي ډالر په وړاندې د پیسو د کنټرول او د بشري مرستو د عملیاتو لپاره د ډالرو د راغونډېدولو له کبله په اوسط ډول ۱۵.۷ سلنه لوړه شوې وه، خو د ۲۰۲۴ کال په دسمبر او نومبر کې افغانۍ ۴.۸ سلنه کمه شوې وه. د خوړو، کیمیاوي موادو، معدني موادو او د ترانسپورټي وسایلو د زیاتو وارداتو له امله د تېر کال په پرتله واردات ۴۰ سلنه زیات شوي وو او په ۲۰۲۴ کال کې ۱۰.۸ ملیارده ډالرو ته ورسېدل، په داسې حال کې چې صادراتو کې ۵ سلنه کموالی راغلی. د عوایدو راټولول قوي پاتې شول او د مالي کال په لمړیو لسو میاشتو کې (د ۲۰۲۴ کال له مارچ څخه تر ۲۰۲۵ کال جنوري پورې) ۲.۵ بیلیونه ډالرو ته ورسېدل، دا د غیر مالیاتي او ګمرکي عوایدو د ودې او همدارنګه د ایران د اسلامي جمهوریت او مرکزي آسیا سره د سرحدي مدیریت او سوداګرۍ اړیکو له امله د تېر کال په پرتله د ۱۱.۵ سلنه زیاتوالی ښيي.

۴۸.	د حاکمې اداري مسوؤلینو د زېربیناوو د پرمختګ، شخصي پانګونې، کورني تولید او نویو مقرراتو له لارې د ځان بسایني ټاکل شوې موخه تعقیب کړې. د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند د ګازو پایپ لاین د افغانستان د برخې جوړول په دسمبر کې پیل شوي او د قوش تیپې د اوبو لګولو کانال پروژې د دوهم پړاو ۸۱ سلنه کار د ۲۰۲۵ کال تر جنورۍ بشپړ شوی و، چې د کانال شاوخوا ۱ میلیون جریبه ځمکه کرنې او صنعت ته ځانګړې شوې. د نوي کابل ښار پروژې پلې کول چې د ۳ میلیونه اوسېدونکو لپاره طرحه شوې وه په دسمبر کې پیل شوې. د ساختماني موادو، خوراکي توکو، کان کیندنې، د نفتو محصولاتو او نورو برخو لپاره ۳۰ نوي معیارونه تصویب شوي څو د محصول کیفیت ښه کړي. د صادراتو د اسنادو پروسه ساده شوې وه. افغان بانکدارۍ سکتور د افغانۍ په ترویج، د نقدو پیسو د ستونزو په حل او د اسلامي بانکدارۍ پرمختګ باندې تمرکز کړی. د کان کیندنې پروسې د پام وړ ډول ساده شوې وې او د ۲۰۲۴ کال د مارچ او ۲۰۲۵ کال جنورۍ تر منځ، د حاکمې اداري د مسوؤلینو د ۳ بیلیونه ډالرو په ارزښت ۹ لویې کچې او ۱۸ کوچنۍ کچې قراردادونه نړیوالو شرکتونو ته ورکړي دي. د چین-افغانستان ګډې خصوصي پروژې راپور ورکړی چې د ۱۴۵ میلیونو ډالرو په ارزښت یې په لوګر ولایت کې د سیمنټو یوې فابریکې جوړولو لپاره، ۳۰ کلن تړون لاسلیک کړی چې د اټکل له مخې به هره ورځ ۲۵۰۰ ټنه سیمنټ تولیدوي. د چین-افغانستان پروژې پورې تړلي ارقام په خپلواکه توګه نه دي تایید شوي.

۴۹.	د حاکمې اداري مسوؤلینو د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر د لومړي کنفرانس په تعقیب سره د نومبر په ۱۳دوهم ملي د کو چنې

پورونه (مایکرو فایننانس) کنفراس جوړ کړ. د کنفرانس موخه دا وه چې شریکان او ګټه اخیستونکي وهڅوي څو د ۲۰۲۴ کال معرفي شوي مقرراتو سره د مایکرو فایناس په سکتور کې ښکېل شي. کنفرانس د کو چنې پورونه (مایکرو فایننانس) سکتور د ملاتړ لپاره د پنځو نویو مایکروفایننانس ادارو د اعلان او د حاکمې ادارې مسوؤلینو له لورې د ۶۷.۴ میلیونه ډالرو په پانګه اچونې سره نتیجې ته ورسېد. د راپور ورکولو په موده کې، د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د مختلفو افغان مالي ادارو څخه د اسلامي مالي ادارو او د ملګرتیا پروګرام لپاره په حساب ورکولو او تفتیش ادارو کې د ۴۰ کسانو شاملول اسانه کړل څو د مالي سکتور ظرفیت لوړ کړي او د لږ سود لرونکو پورونو له لارې مایکرو کوچنې او متوسطه کاروبارونو ملاتړ وکړي.

.۵۰ د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ په ۱۳ یوناما د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو د دربیمې غونډې په تعقیب سره، د ښځو، نړیوالو مالي ادارو او د ملګرو ملتونو اړوند ادارو په ګډون د غړو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو، د حاکمې ادارې د سوداګرۍ او صنعت، اقتصاد، مالیې او بهرنیو چارو وزارتونو، د حاکمې ادارې مرکزي بانک او افغان مجربو سوداګرو په برخه اخیستنې سره د خصوصي سکتور د کاري ډلې لمړۍ غونډه په انلاین بڼه جوړه کړه. د غونډې بحثونه د هغو پراخو حضوري او انلاین مشورو د پایلو پر اساس جوړ شوي وو چې د هیواد دننه او بهر د نارینه او ښځینه سوداګریو سره شوې وې چې د څلورو مهمو برخو دندې رامنځته کول او سوداګري، مالي لاسرسی، بازار سره یوځای کېدل او خصوصي بانکدارۍ او مالي زېربناء بحثونو په ښه کولو کې یې مرسته وکړه.

.۵۱ د افغانستان د کورنۍ اوبو رسولو سیستم د جدي ننګونو سره مخ دی چې د اقلیم بدلون او د غوښتنې زیاتوالی یې لا پسې زیاتوي. د نفوس درېیمه برخه د څښاک د اوبو اساسي خدمتونو ته لاسرسی نلري. د کابل ښار په ځانګړي ډول د ځمکې لاندې اوبو د شدید کمښت او اوبو ته د لاسرسي له محدودیتونو سره مخ دی چې ښځې او ماشومان یې په جدي توګه اغېزمن کړي دي. د دسمبر په ۵ د افغانستان د اوبو پلاټفورم د کابل د اوبو بحران په اړه ناسته ترسره کړه او ولایتي کمېټې اوبو د بحران په اړه ناسته د دسمبر په ۱۸ د کابل لپاره د حاکمې ادارې والي، اړونده وزارتونو او د ملګرو ملتونو سره یو ځای ترسره کړه.

.۵۲ د جنوري په ۱۵ د یوناما او حاکمې ادارې مسوؤلینو په ګډې مشرۍ سره په کابل کې د لوړې کچې همغږۍ څلورمه ناسته ترسره شوه، چې موخه یې د نړیوالو او ملي مؤسساتو او ښځو په ګډون د حاکمې ادارې مسوؤلینو، ملګرو ملتونو سیستم او ګډو همکارانو ترمنځ د ښکېلتیا زیاتول وو. ګډونوالو د لمړنیو بشري اړتیا د حل لپار د همغږۍ هڅو، شفافو مرستو عملیاتو او خبرو اترو په اړتیا ټینګار وکړ او پر افغان ولس د محدودیتونو منفي اغېز ته یې پام واړوه.

.۵۳ د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په ۲ او ۳ د ملګرو ملتونو د خطر د مدیریت پراخ سیستم کاري ډلې د ۲۰۲۵ کال لپاره د خطرونو او کمولو هڅې ارزولې او په ۲۰۲۴ کال کې د ګډ خطر عمل پلان په پلي کولو کې د شوي پرمختګ بیا کتنه کړې. د پایلې په توګه، د ۲۰۲۵ کال لپاره د ګډ خطر ارزونه ښیي چې د حاکمې ادارې مسوؤلینو له لوري د وضع شویو نویو محدودیتونو له امله د خطر کچې لوړې شوي دي، چې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو په سیستم کې د ګډ خطر مدیریتونو د همغږۍ ساتلو اهمیت څرګندوي څو د عملیاتو همغږي او اغېزمن ځوابونه یقیني کړي.

.۵۴ د دسمبر په ۳، د افغانستان لپاره د ځانګړي باور صندوق د لاښود کمېټې غونډه ترسره کړه څو د ۲۰۲۵ کال لپاره د صندوق ستراتېژیک یادښت تصویب کړي، چې موخه یې، په نورو شیانو کې صندوق ته بیا لارښوونه کول دي چې د بې ځایه شویو کسانو او راستنېدونکو دوامداره بیا یوځای کېدو په حل لارو تمرکز وکړي، په ځانګړي توګه ښځو د پیاوړتیا په برخه کې.

۵۵.	د ۲۰۲۵ کال په جنورۍ کې، د افغانستان د جنسي استثمار، ناوړه ګټه اخیستنې او ځورونې شبکه د ملګرو ملتونو، غیر دولتي او مدني ټولنې سازمانونو څخه د یوې موخې سره چې همغږي، راپور ورکول، ظرفیت جوړونه او د ملاتړ خدمتونه دي ۳۲۱ ادارو او ۵۵۰ مسوؤلو کسانو ته رسېدلې. په افغانستان کې د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې خطرونو په کمولو کې پرمختګ رامنځته شوی کوم چې په ۲۰۲۵ کال کې افغانستان له لوړترینو نړیوالو خطرونو څخه تر ځلورم ځای راټیټ کړی، د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې د خطر عمومي کتنه د بین المللي ادارو دایمي کمېټې یو ګډ شاخص دی چې د مختلفو عواملو په اړه نښې سره یوځای کوي څه چې د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخیستنې خطر اغېزمن کولای شي.

## پېنځم. بشري مرستې

۵۶.	په ۲۰۲۵ کال کې، په افغانستان کې بشري اړتیاوې لا هم د پام وړ دي.شاوخوا ۲۲.۹ میلیونه وګړي د خوړو د نا امنۍ او خوارځواکۍ لوړې کچې، تکراري طبیعي پېښو او اقلیمي شاکونو روان نفوس خوځښتونو د اوږد مهاله بې ځایه کېدنې، کمزوري اقتصاد، لمړنیو خدمتونو ته نا کافي لاسرسي او په افغان وګړو روان محدودیتونه په شمول چې په ځانګړي ډول ښځې او انجونې اغیزمنې کوي له امله مرستې ته اړتیا لري.

۵۷.	په نومبر کې، د بشري مرستو په هڅه کې د جندر کاري ډلې او د بشري لاسرسي کاري ډلې خپله لسمه سروې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په قانون کې د ذکر شویو په ګډون په ملګرو ملتونو او غیر دولتي ادارو کې له کارکولو څخه د ښځو د مخنیوي او پر ښځو د تحمیل شویو نورو بندیزونو د دوامداره اغېزو په هکله ترسره کړه. د سروې موندنو ښودلې چې د ښځو کارکوونکو خوځښت کې کموالی راغلی دی، چې یوازې ۵۲ سلنه ځواب ویونکو ځواب ورکړی چې دوی د ساحوي ځایونو لیدنه کړې، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۴ کال کې په ورته مهال کې دا کچه ۶۴ سلنه وه. د دې قانون تصویب د کارکوونکو د خوځښت او د لباس د اصول په اړه د کارکوونکو اندیښنې زیاتې کړي، (چې په لسمه سروې کې ۵۴ سلنه او په تېره سروې کې ۳۴ سلنه وه). همدارنګه، دې قانون د افغان ښځو کار کوونکو لپاره دفتر ته د راپور ورکولو  پر وړتیا (۴۶ سلنه) او د ګډ همکارانو سره د غونډو جوړولو پر وړتیا باندې(۴۹سلنه) اغېز کړی دی. ځواب ویونکو ګډو همکارانو هم راپور ورکړی چې د حکومتي چارواکو د حکمونو له امله د ښځو کارکوونکو ویستل(۴۳سلنه) زیات شوي دي. د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په میاشت کې پر هغو افغان ښځو چې په غیر دولتي ادارو کې کار کوي د بندیز له بیا تکرار وروسته، د بشري مرستو په هڅه کې د جندر کاري ډلې د نړیوالو او غیر دولتي ادارو له لورې د افغان ښځو د ګمارنې ځنډېدلو څو قضیې ثبت کړي.

۵۸.	د ۲۰۲۴ کال له جنوري تر دسمبر پورې، بشر مرستو ګډو همکارانو ۲۰.۴ میلیونه کسانو ته لږ تر لږه یو ډول بشر دوستانه مرسته رسولې په شمول د درې میلیونه وګړو چې لږ تر لږه درې مختلف ډولونه برخو کې یې ملاتړ ترلاسه کړی. په ټوله کې ۱۳.۹ میلیونه کسانو د خوړو او معشیت مرسته، ۸.۴ میلیونه کسانو د روغتیا ساتنې، ۴.۶ میلیونه ماشومانو، حامله او شیدې ورکوونکو ښځو د تغذیې مرسته، ۶.۳ میلیونه کسانو د ساتنې مرسته، ۵.۴ میلیونه کسانو د اوبو، حفظ الصحې او نظافت، ۹۴۱۰۰۰ کسانو د بېړنۍ سرپناه او غیر خوراکي توکو او ۵۵۴۰۰۰ ماشومانو د تعلیم مرستې ترلاسه کړې دي. لکه څنګه چې د دسمبر په ۲۹ د ۲۰۲۴ کال د افغانستان د بشري اړتیاوو او ځواب پلان ۱.۴۵ بیلیونه ډالر ترلاسه کړي چې د غوښتل شوي ۳.۶ میلیونه ډالرو، ۴۷ سلنه جوړوي.

۵۹.	د خوړو خوندیتوب یو څه ښه شوی، چې ټولټال ۱۴.۸ میلیونه کسان اوسمهال د خوړو د نا امنۍ له بحران یا اضطراري حالت (د خوړو امنیت مرحلې متحدې درجه بندۍ درېیمې مرحلې او پورته ) سره مخ دي، چې دا شمېر په ۲۰۲۳

کال کې ۱۵.۳ میلیونه وګړي وو. د عایداتو  د فرصتونو کمښت او د وچکالۍ شرایطو دوامداره اغېزې د خوړو د نا امنۍ لامل شوي دي. د خوارځواکۍ کچې لا هم لوړې دي او اټکل کېږي چې تر ۲۰۲۵ کال پورې د جدي شدیدې خوارځواکۍ ماشومانو شمېر ۱ سلنه او د منځنۍ شدیدې خوارځواکۍ ماشومانو شمېر ۲۸ سلنه لوړ شي. د خوړو نړیوال پروګرام د ۲۰۲۴ کال د جنوري او دسمبر تر منځ ۱۱.۸ میلیونه وګړو ته د خوړو، تغذیې او معشیت مرسته برابره کړې او ۶.۴ میلیونه زیانمو وګړو ته په نومبر او دسمبر کې د ژمنۍ میاشتو لپاره د مخکې ځای پر ځای کولو د هڅو په توګه د خوړو او نغدو پیسو مرسته چمتو کړې.

۶۰.   د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر له ۱ تر ۳۱ د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د کرنې پر اساس معشیتي ملاتړ پروګرامونو له لارې ۵.۷۹ میلیونه ګټه اخیستونکو سره مرسته وکړه، په پراخو ساحو کې د بېړنۍ مرستې په شمول د بېلګې په توګه: د غنمو کښت، کورنۍ باغداري، د کور شاته حویلۍ کې د چرګانو تولید، د ځمکۍ غوښې(سمارق) د کښت کڅوړې، سولرې وچوونکې او د لبنیاتو بستې او په ټول هیواد کې ۵.۶۴ میلیونه وګړو ته له قید او شرط پرته د نغدو پیسو انتقال. همدارنګه د خوړو او کرنې سازمان له لورې د اوبو لګولو ۳ پروژې چې ۲۲ کیلومتره اوږدوالی لري او د خړوبولو لپاره ۱۰۰۴ هکتاره ساحه تر پوښښ لاندې نیسي بیا رغول شوې، ۱۳۳ د ګډو ګټو پر اساس جوړ شوي ټولنیز ګروپونه ترتیب شوي، له ۴ میلیونو څخه زیات څاروي د مختلفو حیواني ناروغیو په وړاندې واکسین شوي، ۲۵۱ هکتاره ځمکه بیا کرل شوې او ۷۵ هکتاره تخریب شوي څړځایونه بیا رغول شوي، په ۱۰ ولایتونو د آزموینې او بزګرانو ته د زده کړې له لارې ۲۸۶ ټنه د سویابین تخمونه تولید شوي او په دوو ولایتونو کې د ناڅاپي سیلابونو ویجاړونکو اغېزو ته د غبرګون په توګه ۷۱.۵ کیلو متره کانالونه پاک او ۲۳۴ متره ډبرین استنادي دیوالونو بیا رغونه شوې چې د کانالونو غاړې ساتي.

۶۱.   د روغتیا نړیوال سازمان له مخې، د جنورۍ له ۱ څخه د دسمبر ۳۱ پورې د اوبو د کمښت سره د شدید اوبلن اسهال ۱۷۵۲۶۲ پېښې، ۴۷۲۲ د ډینګو د تبې مشکوکې پېښې او ۱۲۲۱ د کریمین کانګو د وینې بهېدنې تبې شکمنې پېښې ثبت کړي دي. سربېره پر دې ۵۹۷۵۳ د شري شکمنو پېښو، ۸۱۳۰۴ د ملاریا تایید شویو پېښو او ۱۳۵۷۳۵۰ د تنفسي ناروغۍ یا نمونیا شدیدو پېښو راپور ورکړل شوی دی. د روغتیا نړیوال سازمان د خپلو پروګرامونو د برخې په توګه تخنیکي او مالي ملاتړ چمتو کوي څو د ساري ناروغۍ  د خپرېدو لپاره د کشف، څېړلو او ځواب ویلو لپاره چمتو اوسي.

۶۲.   د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ څخه تر نومبر پورې، د جګړې له امله رامنځته شوي د تروما پېښې چې درملنه شوي او دوهمې درملنې ته وړاندې شوي وې ۰.۲ سلنه زیاتې شوې چې ۴۴۳۸۴ پېښو ته رسېدلې، په داسې حال کې چې په ۲۰۲۳ کال کې د همدې مودې په ترڅ کې دغه شمېر ۴۴۲۹۰ و. په ۲۰۲۴ کال کې د نومبر او دسمبر په میاشت کې ۹۲۷۹۰ ماشومان چې تر پنځه کلونو کم وو او د جدي خوارځواکۍ څخه ځورېدل په ۱۴۸روغتونونو او ۳۰۶۸ دایمي روغتیايي مرکزونو کې شامل شوي او درملنه یې شوې. سربېره پر دې ۱۸۳۲۷۴ ماشومان چې د پنځو کلنو کم عمر سره د منځنۍ شدیدې خوارځواکۍ سره مخ وو د هدفمندې اضافي تغذیې پروګرام له لارې ورته رسېدنه شوې. په دسمبر کې ۴۱۴ ګرځنده روغتیايي او د تغذیې ټیمونه چې ۴۷۱۶۰۰ څخه زیاتې لمړنۍ روغتیا پالنې مشورې چمتو کوي لریو پرتو سیمو ته رسېدګې کړې.

۶۳.   اټکل کېږي چې د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر او ۲۰۲۵ کال د جنوري تر منځ ۳۵۶۳۲۹ افغانان افغانستان ته راستانه شوي دي پرته له هغو کسانو چې پاسپورت او د اعتبار وړ وېزې لري. په دې شمېر کې ۵۹۲۱۷ له پاکستان څخه او ۲۹۷۱۱۲ د ایران له اسلامي جمهوریت څخه او ۱۷۳۵۰۶ هغه کسان چې شړل شوي شامل دي. په دې موده کې، د بشري دوستانه ګډو همکارانو له ایران او پاکستان څخه له ۱۲۰۷۰۰ څخه زیاتو بې اسناده افغان راستنېدونکو سره د کډوالو نړیوال سازمان د ښه راغلاست په مرکزونو کې مرسته کړې. د ۲۰۲۴ کال د جنوري له ۱ څخه د دسمبر تر ۳۱ پورې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنرۍ د

۵۴۷۲۰ ثبت شویو کډوالو او د کډوالو په څېر راستنېدونکو سره د ساتنې ملاتړ برخه کې مرسته کړې. هغه کډوال چې د کډوالو عالي کمشنرۍ لخوا ورسره مرکه شوې د مالي ملاتړ، سرپناه، خوړو، ثبت، قانوني مرستې او اساسي خدمتونو ته د بېرته راتګ په ساحه کې د مهمو اړتیاوو په توګه د لاسرسي په اړه راپور ورکړی. په ۲۰۲۴ کال کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنرۍ په افغانستان کې له ۱.۳ میلیونه زیاتو زیانمنو کسانو سره مرسته کړې، چې پکې د ساتنې خدمتونه، نغدي او غیر نغدي مرستې شاملې وې.

۶۴. بشري مرستو ته لاسرسی لا هم ننګونکی پاتې دی، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر څخه تر دسمبر پورې ۴۱۸ د بشري مرستو ته د لاسرسي اړوند پېښې ثبت شوي، چې د ۲۰۲۳ کال د ورته مودې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښيي. اساسي ننګونه په بشري فعالیتونو کې د حاکمې ادارې د مسوؤلینو مداخله وه چې د پېښو ۸۶ سلنه جوړوي. نورو محدودیتونو کې د خوځښت محدودیتونه(۱۸پېښې) او د بشري مرستو د کار کوونکو(۲۹ پېښې) شاملې دي په شمول د ۱۷ نیونې چې په کې ۴۱ د بشري مرستو کار کوونکي نیول شوي وو، د فزیکي چاپیریال (۵ پېښې) او د روان نظامي عملیاتو (۱ پېښه). دا پېښې په۱۶۱ مختلفو سیمو کې د فعالیتونو د مؤقتي ځنډ لامل شوي چې د تېر راپور ورکولو مودې په پرتله ۲۵ سلنه کمښت ښيي. د ۲۰۲۴ په دسمبر کې د جندر اړوند لاسرسي راپور شوي پېښې ۳۱ ته لوړې شوي چې د ۲۰۲۴ کال د نومبر پرتله چې ۱۸ راپور شوې وې زیاتوالی ښيي.

۶۵. د نومبر او دسمبر په میاشت کې ۱۷.۴ کیلومتره مربع ځمکه د چاودېدونکو مهماتو څخه پاکه شوې، چې د بې ځایه شویو کورنیو د خوندي راستنېدو او زراعتي فعالیتونو، سرکونو جوړولو، د استوګنې سیمو پرمختګ او د خوندي ځړځای لاسرسي ته اسانتیا برابروي. د ملګرو ملتونو په مشرۍ دماین پاکولو تخنیکي ډله ۲۹۷ د باکیفیته مدیریت لیدنې ترسره کړې، ۱۳ د همغږۍ ناستې یې د اغېزمن پلان د جوړونې او پلي کولو داړ ترلاسه کولو لپاره تنظیم کړې او د بشري مرستو د ګډو همکارانو څخه د چاودېدونکو مهماتو د تصفیې لپاره ۱۴ غوښتنو ته ځواب ورکړ. د سرچینو کمبود لا هم جدي دی، ځکه چې د ۲۰۲۵ کال لپاره د ماین پاکولو تخنیکي ډلې تمویل تر اوسه نه دی تأمین شوی او کولای شي د کیفیت تضمین، د ډیټابېس مدیریت او د ځواب همغږۍ باندې اغېزه وکړي.

**شپږم. د نشه یي توکو په وړاندې مبارزه**

۶۶. د ۲۰۲۴ په نومبر کې په یو خپاره شوي راپور کې د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر لخوا څرګند شوي چې په افغانستان کې د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د افیون تولید د دوهم مسلسل کال لپاره ټیټ پاتې شو، سره له دې چې د ۲۰۲۳ کال په پرتله ۱۹ سلنه زیاتوالی راغلی و او د تولید اندازه ۴۳۳ ټنه اټکل شوي وه، د کښت کچه لا هم د هغې په پرتله چې د افیون د بندیز د پلي کولو مخکې وه ډېره ټیټه ده. مخکې په جنوبي ولایتونو کې پر کښت تمرکز کېدو اوس شمال ختیځو ولایتونو په ځانګړي ډول بدخشان ولایت ته لېږدول شوی. د نومبر په ۲۷ د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر او د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام په افغانستان کې د نشه یي توکو د استعمال درملنې په اړه لمړنی پراخه راپور خپور کړ چې د خدمتونو د وېش، لاسرسي او د جندر په استازیتوب کې سره له دې چې خدمتونه له ۳۴ ولایتونو څخه په ۳۲ ولایتونو کې شتون لري ستر توپیرونه په ګوته کوي. افیون د درملنې د اخیستلو اصلي لامل پاتې شوی او د تحریکي موادو په ځانګړي توګه میتامفیتامین د استعمال لپاره د خدمتونو غوښتنه زیاته شوې ده.

۶۷. د ۲۰۲۴ کال د نومبر له ۱ تر دسمبر ۳۱ پورې د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر د روغتیا پروګرام چې د

ښځو د جنسيتي برابرۍ او ځواکمنولو لپاره د ملګرو ملتونو اداري سره په همکارۍ ترسره شو ۱۷۱۳۸ ښځو او د هغو ماشومانو ته چې نشه يي توکي کاروي او يا د نشه يي توکو د استعمال په خطر کې دي، ملاتړ چمتو کړی و. په چمتو شوي ملاتړ کې لومړنۍ او توليدي روغتيا درملنه، د غاښونو درملنه، بنسټيز ټولنيز خدمتونه، د مسلکي مهارتونو روزنه او د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی د قربانيانو لپاره د ملاتړ خدمتونه شامل وو. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو دفتر د غير دولتي سازمانونو، مدني ټولنې او د نشه يي توکو د درملنې مرکزونو د روغتيايي مسلکي کسانو شپږ ويبنارونه تنظيم کړل څو د رضاکارانه اوسېدنې د درملنې خدمتونو په اړه د نړيوالو تجربه کارو سره غوره کړنلارې تبادله کړي. د ملګرو ملتونو د نشه يي توکه او جرمونو دفتر د بديل معشيت پروګرام د کابل او هرات په زندانونو کې ۳۰۱ ښځو ته د مسلکي مهارتونو رزونه ورکړې، چې ۵۰ ښځو د خياطۍ رزونه بشپړه او ۱۸ ښځو د قالين اوبدنې روزنه بشپړه کړې. د ملګرو ملتونو د پراختيا پروګرام په شپږو ولايتونو(بادغيس، بلخ، فراه، کندهار، لغمان او ننګرهار) کې د ۸۸ ښځو په ګډون له ۸۰۰ بزګرانو څخه د تخنيکي او مالي مرستو په چمتو کولو سره ملاتړ کړی چېرې چې مخکې د کوکنارو د کښت کچه لوړه وه. ياد پروګرام همدارنګه د کرنې د پراختيا د روزنې او دوه د حاصل وروسته پروسس کولو مرکزونو د بيارغولو په چمتوالي سره (د ۲۵۲ ښځو په شمول) ۱۲۲۹ بزګرانو سره مرسته وکړه.

۶۸. د نومبر په ۲۸، د افغانستان په اړه د ځانګړو استازو د درېيمې غونډې د تعقيب په توګه چې په دوحه کې ترسره شوه، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې کاري ګروپ خپله لومړۍ انلاين غونډه د ګډون کوونکو غړو هيوادونو او نړيوالو سازمانونو، د بهرنيو چارو او کورنيو چارو وزارتونو، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د عامې روغتيا وزارت، نړيوالو مالي بنسټونو او د ملګرو ملتونو اړونده ادارو سره ترسره کړه. کاري ډلې موافقه وکړه چې د بديل معشيتونو، د نشه يي توکو مخنيوي او درملنې او د نشه يي توکو توليد او قاچاق په اړه کوچنۍ ډلې جوړې کړي. د بديل معشيتونو په اړه ګډ عملياتي پلان د کاري ډلې د غړيتوب په دوهمه غونډه کې، د فبرورۍ په ۱۲ وړاندې شو.

### اووم. د ماموريت ملاتړ

۶۹. د ۲۰۲۵ کال د جنوري تر ۳۱ پورې، په يوناما کې د نړيوالو کارکوونکو د خالي بستونو کچه ۱۲ سلنه، د ملګرو ملتونو د نړيوالو رضاکارانو لپاره ۳ سلنه، د ملګرو ملتونو د داخلي رضاکارانو لپاره ۱۱ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۵ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۱ سلنه وه، د تاييد شويو کچو سره پرتله شوي چې په ترتيب سره ۸.۳ سلنه، ۹.۳ سلنه، ۵ سلنه، ۱۵.۵ سلنه او ۱۱.۲ سلنه دي. د ښځينه کارکوونکو برخه د نړيوالو کارکوونکو لپاره ۳۴ سلنه، د ملګرو ملتونو رضاکارانو لپاره ۳۸ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۹ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۱۱ سلنه وه. د ملګرو ملتونو رضاکارانه پروګرام ځوانو افغان ښځو لپاره چې غواړي د ملګرو ملتونو په کاري ځواک کې شاملې شي يوه مهمه لاره پاتې کېږي.

### اتم. څارنې

۷۰. که څه هم د جګړې شديده څپه درې کاله کېږي درېدلې، مګر بيا هم د افغانستان اقتصاد لا هم هماغسې حساس او د نړۍ تر ټولو بد انساني بحرانونه تجربه کوي چې شاوخوا ۲۲.۹ ميليونه وګړي يې مرستې ته اړتيا لري. د حاکمې ادارې مسوؤلين لا هم پر افغان ولس په ځانګړې توګه پر ښځو خپلو محدودونکو پاليسيو او کړنلارو پلې کولو ته ادامه ورکوي، د خلکو اقتصادي فعاليتونه او معشيتونه لا پسې محدود شوي چې له امله يې اړمنو خلکو ته د مرستې په رسولو کې خنډ رامنځته شوی. د حاکمې ادارې دغه پاليسيو د نړيوالو بشري حقونو د قوانينو او د افغانستان د نړيوالو مکلفيتونو سره په ټکر کې دي،

چې له امله يې افغانستان د مرستندويانو په شمول د نړيوالې ټولنې څخه په يو داسې حساس وخت چې د افغانانو لپاره نړيوالې بشري او انساني بنسټيزې مرستې اړينې دي د ګوښه توب له جدي خطر سره مخ کړی دی.

۷۱. ملګري ملتونه د امنيت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پريکړه ليک کې د تشريح شوي هغه وروستي وضعيت لاسته راوړولو لپاره ژمنه پاتې کېږي چې له مخې به يې افغانستان په بشپړه توګه په نړيواله ټولنه کې بيا ادغام شي، خپل نړيوال مکلفيتونه پوره کړي او د خپلو ګاونډيو هېوادونه سره په سوله کې ژوند وکړي. دا به د ملګرو ملتونو د ځانګړو استازو د غونډې، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزې او خصوصي سکتور کاري ډلو د ترسره شويو ناستو له لارې ترسره شي. د افغانستان په اړه د نړيوالو توافق او جوړ جاړی بر قراره ساتل خورا مهم دی. په داسې حال کې چې شريکان بايد جوړجاړی وکړي، دا جوړ جاړی بايد د نړيوالو مکلفيتونو او معيارونو په چوکاټ کې د حاکمې ادارې مسوؤلينو له لورې د پياوړو خبرو اترو له لارې ترلاسه شي. زه د افغان وګړو د بنسټيزو اړتياو د پوره کېدو او د ګډونوالو ترمنځ د اعتماد رامنځته کولو په اړه د کاري ګروپونو بحثونو خوشبين کړی يم.

۷۲. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قانون تطبيق د ټولو نسلونو نارينه او ښځو دواړو ته ځواړخيزې ننګونې رامنځته کوي، په داسې حال کې چې ښځې په غير متناسب ډول اغېزمنوي د هغوی چې آزاد تګ راتګ او بسنټيزو خدماتو ته لاس رسی يې لا محدود شوی دی. د محدودونکو تدابيرو لړۍ چې ښځې په رسنيو کې له کار منع کوي او په دفتر کې د دندو محدودولو ته يې اړ باسي، وېرونکې ده. د بيان آزادي د آزادو رسنيو له تضمينونو سره يو ځای بايد يقيني شي او همدارنګه په رسنيو کې د ښځو کار کول او اهميت يې بايد درک او وپېژندل شي. زه د حاکمې ادارې له مسوؤلينو څخه غوښتنه کوم چې، ټول هغه محدوديتونه لغوه کړي چې د افغانستان د خلکو په ځانګړې توګه د ښځو او انجونو لپاره د بشري حقونو او بنسټيزو آزاديو څخه د خوند اخيستل خنډ او زيانموي.

۷۳. د طبي انستيتيوتونو په ټولګيو کې د ښځو او انجونو په ګډون بنديز نه يوازې دا چې تبعيضي دی او د افغانستان د نړيوالو بشري حقونو د مکلفيتونو سره په ټکر کې دی، بلکې په افغانستان کې د ښځينه روغتيايي کارکوونکو شمېر چې دمخه لا ناکافي وو په شدت سره لا پسې کموي، چې په دې توګه روغتيايي خدمتونو ته د ښځو او انجونو لاسرسی لا پسې محدودېږي. په قابله ګۍ او نورو طبي برخو تعقيبولو باندې د ښځو بنديز به د ميندو او نوي زېږېدلو ماشوم او راتلونکې نسلونو د مړينې او ناروغۍ لپاره جدي او سمدستي پايلې ولري. زه يو ځل بيا د حاکمې ادراې د مسوؤلينو څخه غوښتنه کوم چې د ښځو او انجونو پر مخ ټول وضع شوي بنديزونه لغوه کړي.

۷۴. د حاکمې ادارې مسوؤلين بايد د جسمي سزاګانو پلي کول ودروي، څه چې د نړيوال قانون لاندې د شکنجې يا ظلم، د غير انساني يا سپک چلند او يا د سزا يوه بڼه ګڼل کېږي. افغانستان د هغه نړيوالو بشري حقونو د تړونونو غړی دی، چې هر نوعه شکنجې او سپک چلند په کلکه منع کوي. د ۱۸ کلونو څخه د کمو عمر لرونکو کسانو لخوا د ترسره شويو جرمونو لپاره د اعدام سزا عملي کول د نړيوالو بشري حقونو د قوانينو له مخې جدي منع ده. زه د حاکمې ادارې د مسوؤلينو څخه غوښته کوم چې د اعدام د سزا د له منځه وړلو په موخه د نورو اعدامونو د پلي کولو لپاره يو ځنډ رامنځته کړي.

۷۵.	سره له دې چې د حاکمې ادارې لخوا د عمومي عفوې ژمنه په عامه توګه اعلان شوې ده، غیر قانوني وژنې، بې بنسټه نیونې او زنداني کول او د پخواني دولتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو د شکنجې او بد چلند دوامداره راپورونه د اندیښنې وړ دي. دا خورا مهمه ده چې د دې افرادو د ساتنې ډاډ ترلاسه شي او کله چې له بخښنې سرغړونې پېښېږي د عاملینو د حساب ورکولو لپاره بشپړ او شفاف تحقیقات ترسره شي.

۷۶.	د ناچاودو مهماتو له امله د ماشومانو مړینه او د ژوند بدلونکي ټپونو له امله د هغوی ځورېدل دواړه نه منوونکي او مخنیوی کېدونکي دي. د ماینونو د پاکولو هڅو او د پوهاوي لوړولو لپاره د نړیوالې ټولنې لا زیاتې مرستې ته بېړنۍ اړتیا لیدل کېږي چې خپل ملاتړ لا زیات کړي، څو د لا ډېر زیان مخه ونیول شي.

۷۷.	بشري مرستو ته لاسرسی د مرستو په فعالیتونو کې د منځګړیتوب، د حرکت محدودیتونو په ځانګړې توګه پر ښځو او انجونو او د مرستې د کارکوونکو په وړاندې د تاوتریخوالي له امله په دوامداره توګه خنډ کېږي.پر انجونو او ښځو باندې اوسني محدودیتونه چې د هغوی حقونه تړې اخلي، یوازې کولای شي ټولنه مرستو پورې تړلې او خطرناکې او پرله پسې دورې ته واچوي څه چې بقا نشي کولی او دا محدودیتونه باید لغوه شي. د حاکمې ادارې مسوؤلین باید سمدتي اقدام وکړي څو د بشري مرستو د کارکوونکو امنیت یقیني کړي، د خپلواکه بشري مرستو عملیاتو ته اسانتیا برابره کړي او د بشري مرستو  په ځواب کې د افغان ښځو خوندي، معنی لرونکې او هر اړخیز ګډون یقیني کړي.

۷۸.	زه د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان څخه د زیات شمېر راستنېدونکو د جذبولو لپاره د ظرفیتونو پراخولو او د هغوی د تلپاتې بیا یوځای کېدو برخه کې د ننګونو په اړه اندیښمن یم. راستنېدونکي د بیا یوځای کېدو په برخه کې په ځانګړې توګه د کور، کار او بنسټیزو خدمتونو د ترلاسه کولو په برخه کې لویې ستونزې لري. زه په نړیوالې ټولنې غږ کوم چې د افغانستان د ظرفیتونو د جذب د پیاوړتیا لپاره د هڅو ملاتړ وکړي څو د لا نورې بې ثباتۍ او احتمالي مهاجرت خطرات کم کړي. زه هغه هیوادونه چې د افغان کډوالو کوربه توب کوي، دې ته هڅوم چې د اړمنو کسانو ساتنې ته دوام ورکړي او خپلو نړیوالو مکلفیتونو ته ژمن پاتې شي او ډاډ ترلاسه کړي چې افغانستان ته هر ډول راستنېدنه په خوښه، خوندي او په عزت سره ده. زه همدارنګه له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوم چې د افغان کډوالو ملاتړ زیات کړي او د ګاونډیو هیوادونو سره چې د لسیزو راهیسې یې په سخاوت سره په لوی لګښت د افغان کډوالو کوربه توب کړی، مسوؤلیت شریکولو او نړیوالې همبستګۍ زیاتولو ته وده ورکړي.

۷۹.	د نړۍ په کچه د بشري بحرانونو په وړاندې، زه د افغانستان لپاره د تمویل د پام وړ کمښت په اړه اندیښمن پاتې یم او نړیوالې ټولنې باندې غږ کوم چې د افغانستان د خلکو د مهمو بشري مرستو او بنسټیزو انساني اړتیاوو د پوره کولو په دوامداره ملاتړ کې ثابت قدمه پاتې شي. د شریکانو د همغږو هڅو پرته به میلیونونه افغانان، په ځانګړي توګه ښځې او ماشومان له سختو او مخنیوي وړ ستونزو سره مخ شي.

۸۰.	ملګري ملتونه نه یوازې د بشري او بنسټیزو اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول لوبوي، بلکې د شریکانو د یو ځای کولو لپاره د سیاسي پروسې په پرمختګ کې هم مهم رول لري څو په افغانستان کې دوامداره ثبات ترلاسه کړي. زه په افغانستان کې

د خپلې ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو ټولو کارکوونکو او د غیر دولتي ادارو ګډو همکارانو، په خورا ستونزمن چاپېریال کې، د دوی د دوامداره ژمنتیا او خدمت لپاره خپله ژوره قدرداني وړاندې کوم.